# د افغانستان بانک

## د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت

## د جواز ورکولو مدیریت

### د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د فعالیت پرېښودلو (لغوه کولو) د غوښتنلیک فورم

**عمومي لارښود:**

دا فورم باید د شرکت د ونډه وال/ونډه والو په شتون کې د غیر بانکي مالي مؤسسو د لوی آمریت د جواز ورکولو په مدیریت کې د مسئول کارکوونکي او یا په ولایتونو کې د افغانستان بانک د اړوند زون د آمریت/ د نمایندګۍ د مدیریت د مسئول کارکوونکي پر وړاندې لاسلیک او ګوته پرې ولګول شي.

مسئول کارکوونکی دې ځان ډاډمن کړي چې د غوښتنلیک فورم د اړوندو سندونو او مدرکونو پر بنسټ ډک شوی او په خپله د ونډه وال/ونډه والو لخوا لاسلیک او ګوته پرې لګول شوې ده.

**لومړۍ برخه: د جواز د فعالیت د پرېښودلو غوښتنلیک او د شرکت ځانګړتیاوې**

**د افغانستان بانک د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت / د نمایندګۍ مدیریت ته!**

زه/موږ چې شهرت مو په لاندې جدول کې ذکر شوی دی د (______________________________) په نوم د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت ونډه وال/ ونډه والو، یاد شرکت د (__________________) شمېرې جواز لرونکی او په / / نېټه مو له د افغانستان بانک څخه د فعالیت جواز ترلاسه کړی دی. غواړو چې د یاد شرکت د فعالیت جواز لغوه کړو.

نو پر همدې اساس، د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې له لوی آمریت څخه غوښتنه کوو چې د جواز د فعالیت د لغوه کولو په برخه کې دې د اړوندو تقنیني سندونو له مخې اړینې کړنې تر سره کړي.

| شمېره | پېژندنه | | د پېژندپاڼې شمېره | د ونډې سلنه | ولایت | ولسوالۍ | ناحیه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | د پلار نوم | | | | | |
| ۱ | | | | | | | |
| ۲ | | | | | | | |
| ۳ | | | | | | | |
| ۴ | | | | | | | |

**د شرکت د شته نمایندګیو لېست:**

| د رسمي استازي ځانګړتیاوې | | | د نمایندګۍ موقعیت | | | | | د جواز له مخې د نمایندګۍ شمېره | د نمایندګۍ ډول | د اړیکې شمېره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نوم | د پلار نوم | پېژندپاڼې شمېره | ولایت | ولسوالۍ | ناحیه | مارکیټ | دوکان شمېره | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | |

## دویمه برخه: د تضمین پیسو د ترلاسه کولو لپاره د بانکي حساب پېژندنه

۱. د دې شرکت ونډه وال چې پېژندنه مو په پورتني جدول کې ذکر شوی ده، مخکې مو د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د تضمین په توګه (__________) افغانۍ په / / نېټه او د ( ) شمېرې آویز له لارې د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د تضمین حساب ته جمع کړې وې. اوس غواړو چې د فعالیت جواز لغوه کولو د طی مراحلو څخه وروسته خپلې ذکر شوی د تضمین پیسې ترلاسه کړو. مهرباني وکړی د شرکت د تضمین پیسې، د ____________ بانک ( ) حساب شمېرې ته چې د ( ) په نوم دی، ولیږدوئ. دیادوني وړ ده چې د معرفي شوي بانکي کارت کاپي له دې فورم سره مل شوې ده.

۲. په دې توګه تصدیق کوم/کوو چې په دې فورم کې ټول درج شوي معلومات او ارقام په کره او سمه توګه ډک شوي دي. همدارز ژمنه کوم/کوو چې د کار جواز له لغوه کولو وروسته شرکت او د شرکت استازي (که استازی ولري) هېڅ ډول خدمتونه نشي وړاندې کولای. که چېرې د یاد جواز له مخې، زما/زموږ له لورې فعالیت یا د شرکت او د شرکت د استازو دوامداره فعالیت په پورتنیو یا د هېواد په نورو موقعیتونو کې ثابت شي، نو دا به د قانون خلاف وي، او چمتو یم/یو چې له ما/موږ سره د هېواد د نافذه قوانینو او مقرراتو له مخې قانوني چلند وشي.

## درېیمه برخه: د صرافۍ او پولي خدمتونو د فعالیت د پرېښودلو په اړه د ونډه وال/ونډه والو دلیلونه او ژمنې

**۱. د صرافۍ او پولي خدمتونو د فعالیت جواز د لغوه کولو (پرېښودلو) دلیلونه:**

أ. ______________________________________________

ب. ______________________________________________

ج. ______________________________________________

د ټیلیفون شمېره : ____________________

برېښنالیک: ______________________________

**د جواز فعالیت د لغوه کولو(پرېښودلو) په برخه کې د شرکت د ونډه والو ژمنې**

- مونږ/زه خبر او ژمن یو چې د مرکزي دفتر د فعالیت جواز له لغوه کولو سره د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت ټولې نمایندګیانې (د نمایندګیو په شتون کې) هم لغوه کیږي.
- د فعالیت جواز له لغوه کېدو او طی مراحلو وروسته، د شرکت ونډه وال او نمایندګۍ د فعالیت له جواز پرته هېڅ ډول د صرافۍ او پولي خدمتونو فعالیت نه ترسره کوي. که چیرې مو په یاده موده کې فعالیت ترسره کړو نو د افغانستان بانک او نورو اړوندو ادارو له لوري هر ډول قانوني چلند ته چمتو یو.
- ژمنه کوو چې له دې شرکت سره د حقیقي او حُکمي کسانو پیسې او پورونه بیرته هغوی ته ادا شوي او د د ې جواز (د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت) لاندې ټولې معاملې تصفیه شوي دي.
- په دې فورم کې ټول معلومات او ارقام په کره او سمه توګه ډک شوي دي.

**د ونډه وال/ونډوالو د ګوتې نښه او لاسلیک**

| نوم | د ګوتې نښه | لاسلیک | نېټه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

**څلورمه برخه: دا برخه د افغانستان بانک د مسئول کارکوونکي لخوا ډکېږي او بشپړېږي.**

د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت د جواز ورکولو مدیریت مسئول کارکونکی یا د اړوند زون د آمریت/د افغانستان بانک نمایندګۍ مسئول کارکوونکی د سندونو او غوښتنلیک په ترلاسه کولو سره، هغه بررسي کوي. د شته سندونو او سوابقو په پام کې نیولو سره، مسئول کارکوونکی لاندې اختیارونه په نښه او د اړوندې مقررې او کړنلارې له مخې کړنې ترسره کوي:

- ☐ غوښتونکی (ونډه وال/ونډه والو) هېڅ ډول مالي یا جنایي جرم نه لري؛
- ☐ غوښتونکی (ونډه وال/ونډه والو) هېڅ ډول مالیاتي مکلفیت نه لري؛
- ☐ د شرکت مرکزي دفتر او نمایندګۍ (د نمایندګۍ په شتون کې) د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز ، د بازار عملیاتو آمریت او د څارنې او د پیسو وینځلو په وړاندې د مبارزې مدیریت پر وړاندې هېڅ مکلفیت یا پاتې حساب نه لري؛
- ☐ غوښتونکي نمایندګیانې د اړوندو زونونو (د نمایندګۍ په شتون کې) پر وړاندې هېڅ پاتې حساب نه لري او زونونه په دې اړه هېڅ کتنه نه لري؛
- ☐ د اړوندې اتحادیې (غوښتنپاڼه) استعلام د ونډه وال/ونډه والو او د صرافۍ او پولي خدمتونو شرکت د مسئولیت او نه مسئولیت په اړه؛
- ☐ د هغه خبر یوه کاپي چې د کار پرېښودلو (لغوه کولو) موضوع په کې خپره شوې وي؛
- ☐ د صرافۍ او پولي خدمتونو د شرکت اصلي جواز له غوښتونکي څخه ترلاسه شوی دی؛
- ☐ د کار پرېښودلو د پراوونو د طی کولو فیس د صرافۍ او پولي خدمتونو د شرکتونو د عوایدو په حساب کې جمع شوی او آوېز یې وړاندې شوی دی.
- ☐ په دې فورم کې وړاندې شوي معلومات، د سندونو او مدرکونو پر بنسټ له دې آمریت سره شتون لري.

د دې غوښتنلیک او نورو وړاندې شویو معلوماتو او سندونو د څېړنې او ارزونې پر بنسټ، غوښتونکی د صرافۍ او پولي خدمتونو د شرکت د کار پرېښودلو او د تضمین په توګه له وړاندې جمع شویو پېسو د ترلاسه کولو لپاره په شرایطو برابر دی.

د ارزونکي نوم: ___________ ______ د ارزونکي لاسلیک: __________ ________نېټه: / /